بسم الله الرحمن الرحيم

## اروپايي وزير يوازې پر مسلمانانو غږ وکړ چې فحشا ته مخه کړي

### خبر

مېتيس تِسفيې (Mattias Tesfaye ) د ډنمارک د همبستګۍ وزير د اکتوبر په درېيمه د شنبې په ورځ، په خپله فېسبوک پاڼه ليکلي وو: «تېره ورځ ما او د مذهبي چارو وزير د لويو اسلامي ټولنو له امامانو سره غونډه درلوده. دوی ته مې په مستقيم ډول وويل چې په عام محضر کې ووايي؛ چې مسلمانې ښځې هم د نورو ښځو په څېر له واده کولو مخکې د ناروا جنسي اړيکو لرلو حق لري.»

### تبصره

حقيقت دا دی چې دا د غرب د فرهنګ او ازادو ارزښتونو ډېره بې حيايي ده چې د يوه پرمختللي، عصري او متمدن هېواد وزير داسې بې ارزښته او سپکې خبرې کوي. په مستقيم ډول د ډنمارک د يووالي وزير غواړي د دې پر ځای چې خپل خلک اسلامي فرهنګ ته راوبولي، مسلمانان له خپل حلال حق څخه حرامو (زنا) ته راوبولي.

اسلام ټول بشر ښځې او نر دې ته رابولي، چې يو له بل سره ښه ټولنيز ژوند وکړي، پاکلمني، ابرومندي او احترام په يوه اسلامي ټولنه کې د انسان لپاره شرافتمندانه صفتونه دي، چې بايد هر مسلمان نر او ښځه يې په ځان کې ولري او د دوی تر منځ کوم توپير هم په دغه برخه کې نشته. اسلام د ښځو د احترام په خاطر هغوی ته ځانګړي خصوصيات او ارزښتونه ورکړي، لکه د شرم کول، پاکلمني او احترام.

دې ته اروپايي فرهنګ نه ويل کېږي، چې لويديځ سياسيون غواړي په زور سره مسلمانان ذليل کړي. د مي ټو جنبش د جنسي ځورونې اندازه مشخصه کړه. ناوړه ګټه اخيستنه او ښځو ته په سپکه سترګه کتل يې په اروپا او غرب کې په ډاګه کړل، چې د دغه کړنو يو ښکاره دليل دی. د لويديځ فرهنګ له ښځو سره د ناوړه چلند او ناوړه ګټې اخيستنې پر اساس بايد وليکل شي. لويديځې رسنۍ هڅه کوي، تر څو په درواغو او تبليغاتو سره د اسلام

پر ضد تبلیغات وکړي، چې د دوی له ښځو سره د زیاتي کولو له فرهنګ څخه د خلکو پاملرنه واړوي، خو دغه ناوړه حالت اوس هم په هر غربي هېوادونو کې روان دی.

دا باید ثبت کړل شي، چې د غربي ټولنې په هر کونج کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی بیخي عام شوی دی. د امریکا په ځینو سیمو کې په هرو دوو دقیقو کې جنسي تېری کېږي. په ۲۰۱۸م کال کې چې کله په ملي کچه په امریکا کې د جرمونو د کچې په اړه څېړنه وشوه، د امریکا د عدالت ګوند له قوله په اوسط ډول په کال کې 433,648 تنه د جنسي تېري ښکار ګرځي.

د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی د اروپایي فرهنګ طبعي پایله ده. له همدې امله دوی له ښځو سره خیانت کوي، ناروا جنسي اړیکې ورسره نیسي او کورنۍ له منځه وړي. خو دغه کړنې له مسلمانانو سره نه ښایي، ځکه موږ د خپل شخصیت له لاسه ورکول او دنمارکي فرهنګ ته تسلیمېدل نه شو قبلولای.

مسلمانانو ته پکار ده چې دوی پخپله د دغه فرهنګ له ناوړه ګټې اخیستنې او د ښځو له دغو ناوړه نظریاتو څخه ځانونه لیرې وساتي. موږ باید په کلکه ځانونه له غربي سیاسیونو څخه لیرې وساتو، ځکه دوی غواړي چې د مسلمانانو شخصیت، ژوند، فرهنګ او د ژوند قوانین ورته تغیر کړي او خپلو ناروا غوښتنو ته ورسېږي.

د دوی لپاره همدغه بس ده، دوی په دې مغرور دي، چې کولای شي مسلمانان له خپلو ارزښتونو څخه منع کړي، خو هېڅکله به هم داسې ونه شي کړای.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: تیم الله ابو لبان**

**۱۴۴۲هـ.ق، د صفر ۲۷مه**

**۲۰۲۰م، د اکتوبر ۱۴مه**